PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

دوهم کال ۲۰ پرله پسي (۷۲مه) گڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش ددلوي ۹ مه د۱۴۱۲ هـ ق درجب المرجب ۲۵ مه د۱۹۹۲ میلادي کال دجنوري ۲۹ مه

شهریان کابل خواستار اتحاد مجاهدین اند

کابل ، میدیا :
گزارشگراعزامی (میدیا) از کابل خبر میدهد شهریان کابل ازینکه رهبران مجاهدین تا کنون نتوانسته اند بین شان اتحاد بمیان بیاورند ، اظهار مایوسی میکنند .
طبق گزارش ، شهریان دوام حکومت کابل رادر نفاق بین مجاهدین دانسته و جدا تقاضا کرده اند تابخاطر خدا ومردم مسلمان ومظلوم کشور وبه غرض پایان بخشیدن حکومت دهریان هرچه زودتر اتحاد کنند .
خبر نگار میدیا بادرنظر داشت حالات موجود در کابل مینویسد ، صعود روز افزون قیم مواد اولیه نابسامانی نظم اجتماعی وپراگندگی رشوت ، اختلاس وعدم احساس مسولیت در دفاتر رژیم رادر استانه سقوط کامل قرارداده است اما انچه سبب دوام ان شد است عدم اتحاد در صفوف مجاهدین است .

داسلامی ژغورنی جبهی نوی سرپرست مشر ونیول شو

الجزایر ، ددلوی ٦ مه :
په الجزایر کی داسلامی ژغورنی جبهی ښاغلی عثمان عیسانی خپل موقت سرپرست په توگه ټاکلی له دی مخکی نوموړی ددغه گوند داجرایه شورا مرستیال ؤ.
بلی خواته په الجزایر کی دولتی راډیو دغه خبرونه رد کړی دی چی گنی واکمنو په جوماتونوکی په لمونځ کوونکو باندی بندیزونه لگولی دی .
دیو لړ نویو خبرونو له مخی ویل کیږی چی دالجزایرحکومت داسلامی ژغورنی جبهی نوی سرپرست مشر عثمان عیسانی هم دگوند دسرپرست په توگه تر ټاکل کیدو ۲٤ ساعته وروسته نیولی ، خو پدی هکله تر اوسه دالجزایر حکومت کوم رسمی خبر ندی خپور شوی .

مجاهدینو په تیرو لسو میاشتو کی دخوست اسیرانوته اسلامي تربیه ورکړه ، اولدوی څخه یی افغانان او مجاهدین جوړ کړل .

الحاج حقاني

په ۲ مخ

په خوست کي دنیول شویو اسیرانو دخوشي کیدو په مناسبت دغونډي راپورتاژ

دانگلستان په جوماتونو کی دعبادت کوونکو په شمیر کی زیاتوالی

لندن ، ددلوی ٥ مه :
په انگلستان کی داسلام دمبارك دین په مقبولیت کی ورځ په ورځ زیاتوالی راځی ، چی دغه وضعی دعیسوی مذهبو ادارو په منځ کی تشویش او اندیښنه راولاړه کړی ده .
په تیرو ورځو کی ددی هیواد جرایدو یوتحقیقاتی رپوټ خپور کړی چی دهغی له مخی ویل کیږی چی په انگلستان کی دمسلمانانو په جوماتونو کی دعبادت کوونکو په شمیر کی په سلو کی ۱۳۰ زیاتوالی راغلی ، پداسی حال کی چی په کلیسا گانو کی دعبادت کوونکو په شمیر کی په سلو کی ١٦ کموالی راغلی .
داپداسی حال کی چی دانگلستان دعمومی کلیسا له لوری دعیسویت خواته راگرځیدونکو خلکو ته هر ډول سهولیت او ارامتیا برابریږی .

په امریکا کی داسرائیلو سفیر :

امریکا به دیهودو دځای پر ځای کولو په بروسه کی داسرائیلو مرسته کوی

په ۸ مخ

دالجزایری مسلمانانو په مظاهره ېزی

بی شمیره کسان ټپیان او بندیان شول

په ۸ مخ کي

دامنیت شورا دپریکره لیك دمنلو لپاره :

بطروس غالی خپل یو استازی لیبیا ته لیږی

په ۸ مخ کي

دخوست فاتح الحاج حقانی دکراچی له دینی جامعو څخه لیدنه وکړه

په ۳ مخ

دپاکستاني ولس او افغاني جهاد مقصد یو دی

جنرال حمیدگل

په ۸ مخ کي

الحاج مولوي حقاني دبي ، بي ، سي راډیو له خبریال سره په مرکه کي:

په خوست کی نیول شوی زر تنه اسیران ددي سند په ورکولو سره خوشي کړای شول چی لس میاشتي یی دجهاد په سنگر کی دجهاد او مجاهدینو خدمت کړی

په ۳ مخ

سرمقاله

سرلوړی افغان دقربانیو پرڅلی

زموږ دمجاهد ملت دیارلس کلن جهاد او قربانی بیشکه چی ملت او امت ته ستر افتخارات وروبخښل ، دهمدغی افغانی شاه څلیمو دتوری زور ؤ چی دروس ښکیلاکی امپراطوری دړی وړی شوه ، په نړی کی زیاتو ازادۍ غوښتونکو زموږ دجهادی خوځښت نه الهام واخیست اودخپلواکی ترلاسه کولو لپاره یی داستکبار پر ضد دقیام لاره خپله کړه .
په زغرده ویلای شو چی زموږ دمومن ملت قیام دمحکومو نړیوالو لپاره دنجات او خلاصون زیری دیوه خطرناك جنگی ماشین دماتی اودیوی ښکیلاکی امپراطوری د دړی وړی کیدو عامل ؤ او دی که دښاغلی یوسف اسلام خبره اوس دروس امپراطوری ددړی وړی کیدو لپاره په سلگونو ساینسی او تکنالوژیکی دلایل او ثبوتونه راوړل شی هم دافغان مجاهد ملت دتکبیر شور او زوږ ځوك نشی خفه کولی او دتاریخ ددغی ستری حادثی په رابطه دافغانی غازیانو له رول نه سترگی نشی پټیدای .

په ۷ مخ کي

دبرماپوځی حکومت ته دبنگله دیش اخطار :

که پر مسلمانانو زور زیاتی بند نه شی نودجگړی امکان شته

په ۸ مخ کي

اوج اختلاف بین جناح های مختلف حزب خلق کابل :

افراد طرفدار کارمل ازپست های حساس برکنار می گردند

درصفحه ۸

په خوست کی نیول شوی عسکر او ملیشه باید داللّه تعالی شکر پر ځای کړی چی مجاهدینو دوی ته دتیرو اعمالو عفوه اعلان کړه الحاج حقاني

جهاد هنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني
دتاسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

دافغانستان دمسالی ستونځی اودحل امکانات یی

عبدالوکیل

کله چی په ۱۳۵۷ هـ ش کال کی دثور په ۷ نیټه دافغانی خاوری اومسلمان ولس لپاره یو جدی خطر او بول بول ربړی رامنځ ته شوی اودافغانستان مسلمان او مجاهد ولس ددغی فتنی دله منځه وړلو په خاطر وسله وال جهاد پیل کړ نو بیا د۱۳۵۸ هـ ش کال دجدی شپږمی نیټی پوری دمجاهدینو په گټه دنوموړی مسٔلی نظامی او سیاسی حل دواړه امکانات موجود وو خوپه افغانستان کی دروسانو مستقیمی نظامی مداخلی اودهغی دوام دنړی ټولو خودغرضه قواؤ ته په مختلفو څیرو دنفوذ اومداخلو لاری لانوری هم هموارگکړی اودروسانو دمستقیم نظامی دخالت څخه وروسته بیا ددوی تر تیښتی پوری دسیاسی حل امکانات له منځه ولاړل او نظامی حل یی مشکل شو لودافغانستان اسلامی خاوره نه یوازی داچی دالحاد اواسلام دډغرو ډگر وگرځیده بلکی غرب ته دطلایی چانس په پیدا کیدو سره دغرب او شرق دزور ازمایی ځای هم شو خو دافغانستان مجاهداو مسلمان ولس دشپاړس سوه زرو څخه دزیاتو شهیدانو په برکت په ۱۳٦۸ هـ ش کال کی روسی پوځونه مات اوله افغانستان څخه وتښتیدل اویا لاخره په روان کال کی دروسی کمونستی امپراطوری ړنگیدل ددی باعث شول چی دافغانستان مسالی په اړه دبهرنیو هیوادونو دریځونه سره نږدی شی اویو ځل بیا دسیاسی اونظامی حل شرایط او امکانات رامنځ ته شول خو افغانی مجاهدینواو مسلمان ولس په ټولو مرحلو کی هم دسیاسی او هم دنظامی حل طرفداری کړی اما سیاسی حل یی هغه وخت رد کړی او کوی چی داسلامی دولت دقیام امکانات یی محدود اویایی له منځه وړی.

په اوسنی پړاو کی تر نورو مهم اود توجو وړتکی داوگرځید چی دافغانستان جهادی قواوی داسی عیاری کړای شی ترڅو دسیاسی قدرت له نیولو څخه وروسته داوسنی عصر دایجاباتو او غوښتنو سره سم ددولت او دولت داری ، اسلام ، خپلواکی ، ټولنیز عدالت او عمومی ترقی اوانکشاف دپیاده کولو له عهدی څخه ووزی خو په اوسنی پړاو کی

دافغانستان مسلمان او مجاهد ولس په مقابل لوری کی دکابل مزدور رژیم هغه ربړه ده چی دافغانستان مسلمان ولس هم پخواهم اوس او هم به په راتلونکی کی دهغوی له بقایاؤ سره په هغه اویا دغه څیره دمشکلاتو سره مخامخ وی .

کله چی روسی کمونستی امپراطوری دامریکا متحده ایالاتو اوپه عمومی ډول سره دغرب په مقابل کی یو خطر ناك او قوی ځواك ؤ دغرب لپاره دکابل مزدور رژیم هم یوخطر ناکه پدیده گڼل کیده اودهغه په له منځه وړلو کی یی دهیڅ ډول کوشش او تلاش څخه دریغ نه کاوه خو اوس چی دروس خطر رفع شوی دغرب له خوا دکابل مزدور رژیم دله منځه وړلو هڅی ورو اوسستی شوی اوپه مقابل کی یی داسلامی بنیادگرایانو په ضعیفولو پیل وکړ دبلی خوا په غربی هیوادونو کی افغانی مهاجرین بله هغه کتگوری ده چی په وسله وال جهاد کی بی روله وو خو کله چی دافغانستان راتلونکی دولت په اړوند طرحه رامنځ شی نوبیا مطرح کیږی خو په پاکستان او ایران کی افغانی جهادی تنظیمونه هغوی ته داساسی قدرت سپارلو سره مخالفت کوی.په دی ډول سره جهادی تنظیمونه هم په خپلو منځو کی چی داعتدال پسنده او بنیادگرایانو په نومونو یی شهرت پیدا کړی دراتلونکی اسلامی دولت په اړوند یو سلسله اختلافونه لری همدارنگه دجهادی تنظیمونو تر منځ مذهبی اختلاف دراتلونکی اسلامی دولت دجوړیدو په لار کی مثبت رول نه لری .

۷ مخ کې

مجاهدینو په تیرو لسو میاشتو کی دخوست اسیرانوته اسلامي تربیه ورکړه ...

راپور تاژ : شهرت ننگیال

عکاسي : احمد سینا « احمدي »

دروان کال دجدی میاشتی په ۳۱ نیټه دژوره دحضرت عمر فاروق (رض) په جهادی مرکز کی دیوی پرتمینی غونډی په ترڅ کی دخوست په فتحه کی نیول شویو پوځیانو ته له مجاهدینو سره ددوی دلس میاشتنی خدمت سندونه ورکړل شول .

دسه شنبی په ورځ چی دجدی له ۳۱ نیټی سره برابره ده له غرمی مخکی په یوولس نیمو بجو دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ ته تشریف راوړ چی دغونډ دلومړنی نظام قراول په مخه کی دمجاهدینو دیوی ډلی له خوا چی دتشریفاتو دقطعی بڼه یی لرله درسم تعظیم مراسم په ځای شول .

دغونډ نومیالی قوماندان قهرمان مجاهد الحاج محمد ابراهیم اودغونډ رئیس ارکان ډگروال سید نعیم او دغونډ دمنسوبینو له خوا دخوست فاتح اودوی ملگرو ته بنه راغلاست وویل شو او ډیر تود هرکلی یی وشو .

لدی وروسته دخوست فاتح دغونډ دقوماندانی دمقر تر مخ په هغه ځانگړی ځای کی دلږ ساعت لپاره دمه شو چی په یوه دایروی بڼه جوړ شوی ؤ پدی وخت کی دخوست فاتح له خپلو قوماندانانو سره دافغانستان دجهاد په رابطه په گڼو مسایلو خبری وکړی اوهغوی ته یی دوضعی اوانکشافاتو په رابطه توضیحات ورکړل .

دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دخپلو توضیحاتو په لړکی وویل : زموږ جهاد په یوه حساس او ټاکوونکی پړاو کی قرار لری باید زعامتونه، قوماندانان او ټولس فرد فرد چی په هره ځای او هره سطحه کی قرار لری دخپلو دجایبو او مکلفیتونو په تر سره کولو کی دمسوولیت احساس وکړی او موجود فرصتونه له لاسه ورنکړی.

دخوست فاتح وویل :

افغان مجاهد ولس دجگړی په ډگر کی خپله قهرمانی او برتری ثابته کړه اوس بایددغی ستری قربانی له امله گټل شوی جنگ دسیاست اودیپلوماسی په میدان کی هم دمجاهدینو له خوا وگټل شی له همدی ځایه ده چی تر هر څه دمخه دمجاهدینو یوی واحدی پالیسی منلی طرحی او معقول سیاسی موقف ته ضرورت لیدل کیږی داسی موقف او کړنلاری ته چی له یوی خوا دمجاهدینو له ارمانونو او اهدافو سره اړخ ولگوی اوله بلی خوا له نړیوال پرستیژ څخه هم برخمن وی .

دلته له یوه لنډ توقف وروسته حقانی صاحب دغونډی اصلی مقر ته تشریف یووړ په مخه کی نیول شوی پوځیان په منظمو لیکو کی ولاړوو چی دتکبیر په ملکوتی شعارونو او اسلام زنده باد- او مرگ بر نجیب ، مرگ بر ملحدین په نارو سره یی دخپلو احساساتو څرگندونه کوله .

پدی وخت کی ستر مجاهد

الحاج مولوي جلال الدین حقاني یوه تن اسیر ته دهغه دخلاصون سند ورکوی

الحاج مولوی نظام الدین حقانی هم دغونډی مقر ته تشریف راوړ او نور قوماندانان هم چی دخوست په ویاړمنه او ستره فتحه کی یی فعاله ونډه اخیستی وه حاضر وو.دماسپین له لمانځه او ډوډی وروسته غونډه دقرانکریم دمبارکو ایتونو په تلاوت سره پیل شوه له هغی وروسته دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی ستیج ته تشریف راوړ چی دحضارو له خوایی داسلامی شعارونو په بدرگه کولو ډیر تود او درونډ استقبال وشو .

نیول شوی پوځیان چی په څیرو او حرکاتو کی یی له یوی خوا دیوی سرشاره خوښی نخښی ښکاریدلی له بلی خوا دمجاهدینو له خوا پداسی انسان دوستانه رویه او برخورد حیران معلومیدل ، دوی ته دنه منلو ښکاریدله چی هغه څوك چی دوی پری د گولیو باران جوړ کړی ؤ شهیدان کړی یی ووا و په وینو کی یی لمبولی وو نه یواځی داچی دوی په خوشحالی رخصت کړی بلکی قدر یی هم وکړی مرسته هم ور سره وکړی اوله مجاهدینو سره یی تیرو لسو میاشتو دخدمتونو ستاینه ، هم وکړی داسی معلومیده لکه چی یوبل

میز شاته تشریف راوړ چی دحضارو له خوایی دتکبیر په نارو او اسلامی شعارونو ډیر تود هر کلی وشو .

الحاج مولوی جلال الدین حقانی له حمد او ثنا وروسته وویل :

عزتمندو ورونو !
که موږ دحق او باطل دمعرکی تاریخ ته یو ځغلند نظر وکړو نو څرگنده به شی چی کفارو او دباطل پلویانو دمادی وسایلو او امکاناتو له مخی همیشه په مسلمانانو ډیر والی او قوت لرلی او غوښتی یی دی چی دمسلمانانو پر دینی شعایرو تیری وکړی .

له همدی امله وه چی ملحدینو دخپلو روسی بادارانو په ملاتړ دافغانستان دمسلمان ولس ددینی شعایرو او اساساتو پر ضد په تیری لاس پوری کړ خو کله چی پدی لار کی له ناکامی سره مخامخ شول ، نو ددوی باداران رامخی ته شول او دافغانانو په قتل عام یی شروع وکړه نه یی واړه پریښودل اونه زاړه ، نه یی په ماشومانو صرفه وکړه اونه په تور سرو بلکی دلویانو له وژلو څخه یی دماشومانو له وژلو ډیر خوند اخیست .

دوی کلی او کورونه وران کړل ، جوماتونه یی شهیدان کړل

دخوست داسیرانو دخوشي کیدو دمراسمو یوه څنډه

خوست فتحه شوی وی ، دوهم ځل لپاره فتحه شوی وی داځکه چی پدغه ورځ زړونه فتحه شوی وو او دزړونو فتحه ډیره ستره فتحه ده .

په لوو بجو اوپنځوسو دقیقو دخوست فاتح الحاج مولوی جلال الدین حقانی دخطابی

قرانکریم او اسلامی کتابونه یی وسوځول علماء روحانیون او روشنفکران یی په ډیره بی دردی شهیدان کړل پدی توگه کومی وسلی چی له دوهم نړیوال جنگ وروسته روسانو جوړی کړی او ذخیره کړی وی هغه یی په افغانستان کی

۵ مخ کې

په خوست کی نیول شوي زر تنه اسیران دډی سندپه ورکولو سره خوشی کړای شول چي لس میاشتي یی دجهاد په سنگر کی د جهاد او مجاهدینو خدمت کړی

الحاج حقانی ددغه اسیرانو دخوشی کیدو دځرنگوالی په هکله دخبریال دپوښتنی په ځواب کی وویل :

دخوست دفتحی په ابتدا کی له خوست څخه دوه قسمه خلك راوتل یوه ډله دکړو خاوندان وو ، بله ډله پوځی عسکر او صاحب منصب وو چی کړی نه وی ورسره .

مخی ته حاضر دی ، دوی ته اوس کارتونه او ترخیصونه برابر شوی ، چی دوی لس میاشتی له موږ سره دلته دجهاد په سنگر کی دمیلمنو په شان تیر کړی ما دوی ته ستاسی په مخ کی څو خبری وکړی او څلور پنځه مهم ټکی می ورته ذکر کړل

، یو می داور ته ستاسو خپله خوښه ده ، اوکه دلته زموږ سره ستاسی خوښه وی چی دمجاهد په صفت پاتی شی ، دلته چی مجاهد کوم تنخواه یا معاش ترلاسه کوی له هغی نه به تاسی هم برخورداره وی .

الحاج حقانی دیوی بلی پوښتنی په ځواب کی په خوست کی دنیول شوو او تسلیم شویو صاحب منصبانو دسرنوشت په هکله داسی وویل :

دغه صاحب منصبان له محاکمی نه عفوه شوی دی دوی لا وسله په ځمکه نه وه ایښی چی موږ ورته دعفوی اعلان کړی او ویلی مو وو چی که دوی وسله په ځمکه کیږدی او دملحد حکومت له خدمت نه لاس واخلی نو دهغوی پخوانی گناوی به وبښل شی اوپه پخوانی گناه به نه محاکمه کیږی .

حقانی صاحب همدا راز وویل :

دکابل ملحد رژیم صاحب منصبان ډیر تشویقوی اوپدی ترتیب دهغوی څخه دخپلو صفونو دتقویی لپاره کار اخلی ، ترڅو هغوی دمجاهدینو پر ضد استعمال کړی ، نو په همدی وجه دغه دخوست صاحب منصبان به تر یوه وخته تر مراقبت لاندی وی کله چی دا مرحله تیره شی ، یا دا احتمال ورك شی یا دهغوی کړی او خپلوان دی خواته راشی اویا دکابل رژیم له منځه لاړ شی نو دغه صاحب منصبان به خوشی کړای شی .

حقانی صاحب زیاته کړه :

موږ نن خپل قوماندان راغوښتی چی دنیول شویو صاحب منصبانو دسرنوشت په باره کی سره سلا مشوره وکړو ، پدی هکله به خبری وشی یابه ددی صاحب منصبانو قید تعین شی ، یابه تر یوی نامعلومی مودی پوری په یوه مبهمه فضا کی پاتی وی اویا به ځینی تبادله شی اودځینو که کړی او کورونه راغلل بیا به هغه په ضمانت خوشی شی ، نو نن به پدی ټولو لارو چارو خبری وکړو ، اوبیا به ددوی په هکله یو تصمیم نیول کیږی .

> **په خوست کي نیول شوي عسکر او ملیشه باید دالله تعالي په دربار کي شکر ادا کړي چي مجاهدینو دوي ته دتیرو اعمالو عفوه اعلان کړه**

هغه ډلی ته چی کړی او فامیلونه ور سره وو موږ په اوله ورځ اجازه ورکړه ، چی خپلو کورونو ته لاړ شی اوخپل فامیلو نه چی چیرته غواړی ، په داخل کی یاپه خارج کی (پاکستان کی) ځای پر ځای کړی البته داخلك موله تعهداتو او ضمانت وروسته خوشی کړل او ددوی مراقبت او نگرانی دمجاهدینو له خوا کیدله .

بله ډله خلك هغه وو چی پوځی صاحب منصبان وو ، کړی او فامیلونه ورسره نه وو چی ددی خلکو ټول شمیر په ابتدا کی چی موږ له ټولو تنظیمونو څخه احصائیه اخیستی تقریباً تر (۳۰۰۰) تنه زیات اودوی اعظمه برخه یعنی تر ۲۰۰ نه زیات صاحب منصب زموږ سره وو چی اوس هم زموږ سره شته ، او ددی دوه سوه صاحب منصبانو سره ټول تقریباً ۱۷۰۰ تنه عسکر ، زموږ سره وو چی لدی ډلی نه یو شمیر په اولو ورځو کی په تیښته بریالی شول ، ځکه دوی موږ بندیخانو ته نه وو ننه ایستلی ، یوازی تر مراقبت لاندی وو ، اویو شمیر نور هم په مختلفو وختونو کی دمجاهدینو له خوا نه عفوه شوی اویو شمیر نورهم دخپلو خپلوانو دتضمین او سفارش په وسیله خوشی کړای شوی اواوس تقریباً زر کسه دغه عسکر چی ستاسی

وویل چی تاسی چی له موږ سره دومره وخت تیر کړ دالس میاشتی موچی تیری کړی موږ ستاسی داوخت دبندیخانی په حساب نه بولو ، تاسی زموږ میلمانه وی ، تاسی دجهاد په سنگرونو کی دجهاد لپاره خدمت کړی .موږ ددینه ډیر متشکریو ممنون یو تاسو په ډیر اخلاص او صداقت کار کړی ، نوله همدی وجی نه مو ستاسی په ترخیص کی دخدمت مرحله لیکلی نه دبندیتوب دوره ، نو موږ دلته تاسی ته زیری درکوو چی تاسی په مخکنیو اعمالونه نیول کیږی . دهغه اعمالو له محاکمی نه تاسی عفوه شوی او تردی وروسته له تاسی نه تعهد اخیستل کیږی چی بیا به دملحد حکومت صفونو کی نه ور گډیږی ، اوکه بیا چیری دمجاهدینو په لاس ورغلی اوددی تصدیق وشو چی تاسی بیا ملحد حکومت ته ورغلی یی نو بیا به دوباره تاسی نه عفوه کیږی .

بل مهم ټکی چی ما هغوی ته وویلو هغه داوو چی اوس تاسو ددی ترخیص پانی له ترلاسه کولو وروسته چی خوشی شوی ، نو خپل اختیار لری چی دلته دمجاهدینو په مرکزونو کی پاتی کیږی ، یا دنورو تنظیمونو له مجاهدینو سره یو ځای کیږی ، یاخپلو کورونو ته ځی ، نو دا

> **مجاهدینو دخوست اسیران لس میاشتي څکه وساتل چي اسلامي تربیه ورکړي داسلام له احکامو یي خبر کړي ، واقعیتونه ورته وښیي ، او له حقایقو سره یي اشنا کړي**

دخوست فاتح الحاج حقاني دکراچی له دیني جامعو څخه لیدنه وکړه

کراچي ، جهاد هنداره :

دروان کال ددلوي په ۳ مه نیټه نومیالي مجاهد او پیاوړي قوماندان دخوست فاتح الحاج مولوي جلال الدین حقاني دکراچي ددیني جامعو - مدرسو او علماوو په دعوت دغه ښار ته یو سفر درلود ، اودخپل سفر په ترڅ کي یي دکراچي ښار په بیلابیلو سیمو کي دبیلابیلو دیني مدارسو او جامعو څخه لیدنه کتنه وکړه او ګڼ شمیر غونډو او محفلونو ته یي عالمانه ویناوي وکړي .

دخوست فاتح په دي لړ کي دکراچي دجامعة العلوم الاسلامیه ، جامعه العربیه ، احسن العلوم ، جامعه فاروقیه ، جامعه کراچي ، جامعه مخزن العلوم له مدرسو څخه لیدنه وکړه .

ددي مدرسو له استادانو ، علماوو او مشرانو سره وکتل او ددي مدرسي له خوا جوړ وشو غونډو ته یي ویناوي وکړي .

کراچي ته دالحاج مولانا جلال الدین حقاني دسفر مکمل راپور تاژ به دجهاد هنداري په راتلونکي گڼه کي انشاالله لوستونکو ته وړاندي کړو

دنبوی (ص) لمر زرینی وړانگی! ۳

ژباړه اولنیز رحیمزی

جگړه ډیر نازك او حساس حالت ته رسیدلی وه دمسلمانانو دری جنرالان یو په بل پسی په شهادت رسیدلی وو او صفونه یی مات ښکاریدل ددښمن فشارزیات شوی وو او هغوی خپله کامیابی ښکاره لیدله پداسی حساسه مرحله کی خالد (رض) داسلامی لښکر قیادت په غاړه واخیست هغه دخپل فوق العاده استعداد او هوښیاری څخه په کار اخیستو سره مات او گوډ صفونه له سره ترتیب کړل په مسلمانانو کی یی دجوش او غیرت ساور پوه کړه چی له همدی امله دمسلمانانو لښکر درومیانو فشار ته ودرید او سرسخته مقابله یی وکړه دورځی په جریان کی ټوله ورځ جگړه روانه وه دشپی دواړه لښکری سره جلا شوی، خالد (رض) دوضعی دقیقه مطالعه وکړه دلښکر ترتیب یی بدل کړ ، دښی اړخ لښکر یی دکیڼ اړخ ځای ته راووست او دکیڼ اړخ یی دښی اړخ ځای ته اوپه نوی ډول صف بندی یی وکړه اوبیا یی دمجاهدینو یو غټ ټولی له لښکر څخه جلا کړ او په لیری فاصله کی یی په یوه اوږده قطار کی ودراوه ټوله شپه داسلامی لښکر په صفونو کی نقل او حرکت جریان درلود او دی خبری درومیانو سره دااندیښنه پیدا کړه چی مسلمانانو ته نوره مرسته راورسیده ، کله چی دسهارسپید ه دم شو نو دمجاهدینو هغه ډلگی چی له لښکر څخه لیری ولاړ وو غبرونه اوچت کړل اوپدی سره د رومیانو باور وشو چی مسلمانانو ته نوی مرسته رارسیدلی رومیانو دمسلمانانو شجاعت ، سربښندنه ، اوځوانمردی او ددفاع قوت ښه ازمویلی وو او سخت زخم یی خوړلی وو ، ځکه خو هغوی میدان ته راننوتلو ته حاضر نشول اوس نو خالد(رض) په ډیره منظمه توگه دخپل پوځ په شاتگ پیل کړ ، رومیانو گومان وکړ چی مسلمانان له کوم پوځی تکتیك څخه کار اخلی ، او غواړی دوی ته کوم دام وغوړوی ، ځکه یی له تعقیب څخه لاس واخیست اوپه شا لاړل .

پدی توگه خالد (رض) دخپلی هوښیاری ، ذهانت او خدای ورکړی پوځی استعداد څخه په کار اخیستلو سره کم شمیر مسلمانان دیوه غټ او قوی لښکر دمحاصری له کړی څخه راویستل ، که نه نو جگړی چی کوم رنگ نیولی وو ، دهغی تباه کیدل حتمی وو ، اوبیا به شاید تر مدینی منوری پوری درومیانو په لار کی هیڅ خنډ نه وو .

اوپدی ډول به مسلمانان په خپل کور کی دننه له لوی خطر سره مخامخ وو .

دموتی تر غزا وروسته خالد (رض) دبی شمیره جهادی لښکروقیادت کړی دمکی دفتحی په ورځ هغه داسلامی لښکر دښی اړخ (میمنه) قیادت په لاس کی درلود ، دهوازن او طایف په غزاگانو کی دلښکر دمخامخ ټولی قوماندان وو همدارنگه دبنی حزیمه بنو مـــطلق او دومة الجندل په غزاگانو کی خالد (رض) داسلامی لښکر قوماندان وو .

دکومو کارنامو دځلانده نقش له امله چی خالد (رض)ته تل ترتله عظمت او عزت وربه برخه شو دهغی پیل دابوبکر صدیق (رض) دخلافت له دوره کیږی ، ابوبکرصدیق (رض)چی کله خلیفه وټاکل شو نو دمدینی اسلامی خلافت په یوه غټ کړکیچ کی راگیر شوی وو ، دعربو دبیلابیلو سیمو څخه دقبایلو دبغاوت اوارتداد خبرونه رارسیدل اکثر قومونو او قبیلو دزکات له ورکولو څخه انکار کړی وو ، د مکی،مدینی اوطایف له اوسیدونکو او شاخوا ځینی قبایلو څخه پرته نور هیڅ قوم او قبیله لدی طوفان څخه محفوظه نه وه ډیرو خودخواه اودوکه بازو عناصرو دنبوت کاذبه ادعا کړی وه اوپدی توگه یی دمدینی داسلامی خلافت په مقابل کی دخپلو جلا دینی او سیاسی مرکزونو دټینگښت اعلان کړی وو ، بل لوری ته دروم او ایران پوځونه په شام او عراق کی راټولیدل ، ترڅو دمدینی دراپورته کیدونکی قوت مقابله دهغی تر خطر ناك کیدو دمخه وکړی اودعربو داخلی کړکیچ او اختلاف هغوی ته (رومیانواو ایرانیانو ته) ذرینه موقع په لاس ورکړی وه .

ددی کړکیچ څخه داسلام او مسلمانانو په بریالی راویستلو کی

په ٦ مخ کي

جهادي ادب

سري وي تکی سپیني وي چې تويی شوی
مرګ زموږه دمړيني وي چې تويی شوی،
ولاړي څمکی وخوړي، او ورکی شوی
اوښکی وي او ويني وي چې تويی شوی!

اتل يم که نه يم !

شفيقی

وايه نړۍ دغيرتونو اتل يم که نه يم !
په سرو لمبو کی دمزلونو اتل يم که نه يم !
چې سور ښکيلاك يې شو په يوه جټکه کی دړی وړی
وايه دهغو توپانونو اتل يم که نه يم !
راسره غبرګه کړه ناره مې دتکبير چې جهان
نو دنړۍ دقيامونو اتل يم که نه يم !
دقرباني څلی مې دننګ دی که دکبر مانۍ ؟
دحق په لار کی دمرګونو اتل يم که نه يم !
سخت ګوزارونه درقيب مې پر تندی واخيستل
وايه دننګ ددګرونو اتل يم که نه يم !
چې تول امت مې په شهيد او په غازي نازيږي
نودامت دعظمتونو اتل يم که نه يم !
مستی سندری دجهاد ته مې جهان اوچت کړ
ددی دوران دغورځنګونو اتل يم که نه يم !

ننګيالي او خاطرې يې

دآسيا په زړه کی دافغان پرځمکه دهندوکش اوسپين غر په لمن کی تريوی لسيزی زيات وينی وبهيدی ، تندی مات شول ، هډونه غوڅ شول ، ککری په خاورو کی پريوتلی ، اوبالاخره څه پيښ شول ؟ يو دتاريخ اتل راووت اودبل شان او شوکت له خاورو سره سم شو، يو دتاريخ دبابونو پروني ليکه شوه اوبل دعصر اوپيړی دحماسو اتل .

يو دبشريت لپاره دعبرت اوپند ستر او روښانه مثال شو اوبل دخپلواکی دقيام او حق دلاري مشال.
ديوه مړی او ژوندی وشرميدل وپرځيدل اودبل پر مړو او ژوندیو درحمت درودونه وويل شول .
هوکی !
همداسی وشول څکه له يوه سره وسلی وی باروت وو ، بمونه ، ټانګونه او راکټونه وو ، خوله بل سره ايمان ؤ ، دخدای تعالی مرسته او تکيه وه او بالاخره يو ځل بيا هم ثابته شوه چې بری په وسلونه دی په توپونو او ټانګونو نه دی ، په مرګونو او ورانيو خوك دبری او سر لوړی ستيژ ته نشی پورته کيدلی ، بريمن نور دی هغه چې ايمان لری ، غيرت لری ، ترخپل سر او مال پرخپل دين اوعقيده جارولی شی .
دهمدغو بريمنو له ډلی نه مو يو مخی ته ناست دی دواړه پښی او يوه سترګه يې له لاسه ورکړی خو بری يې ګټلی ، دغيرتونو داستانونه يې پر جهاد خواره دی ويی پيژنی :
نوم يې غازي خان اودملنګ زوی دی ، ددره ګی ولسوالی اوسيدونکی اودمولوي حنيف شاه تر قومانده لاندی يې جهاد کړی دموسی خان په پوستو باندی دعملياتو په ترخ کی ددښمن دخښ شوی ماين دچاودنی له امله ټپی دواړه پښی اويوه سترګه يې له لاسه ورکړی .

تکل

لټون !

سيد شهريار

نه پوهيږم په نورو به څه تيريږی له ماڅخه خو يې خاص سودايی جوړ کړ کله يې يوه سودا اوکله بله کله يې دژوندی پيداکيدو سوچونه وهم او کله يې دمړی او دقبر ! له همغی ورځی راهيسی چې دی راڅخه ژوندی ورك دی زه سوچونو اوفکرونو پخپله غيږه کی اخيستی يم ، هميشه همدغه فکرونه کوم چې چيرته به وی او څنګه به وی کله کله خومی راته دا زړه ووايی چې ژوندی لاګه که هغه قبريی هم پيدا کړی نو دابه ستالپاره لويه خوشبختی وی .
اوبيا همدغی درديدلی احساس او ژورو سوچونو به زه په يوه تکل مجبورولم هغه تکل په کوم کی چې دده دورك قبر دراپيدا کيدو رازنغښتی ؤ.
ربښتيا هم ماتکل کړی ؤ خوښه پوخ ، ماويل زه به وريسی دهيواد لويشت لويشت څمکه چا نوم هر چيری چې وی پيدا کوم به يې او داپاتی ټول عمر به يې ترڅنګه تيروم اوپه قبر به يې ښه لوړ لوړ رنګه بيرغونه دروم څکه چې هديره او قبرونه خوپه بيرغونو ښه ښکاری اوبيرغونه خو هميشه دشهيدانو په قبرونو ريږی .
مابه نو بيا په زړه کی همدا کرل ريبل چې قبو به يې دغاټولو او ګلابو په ګلانو ښه ښکلی کوم تر څنګه به يې رنګارنګ ګلان کرم داسی چې ليدونکی ورته حيرانيږی ، او هديره يې خوشبويی په سر واخلی زه به يې پس له دی دقبر منجاوريم منجاور !
خو زه څه خبروم چې زما لټون بی ځايه دی زما دزوی قبر نه دی معلوم ، زما دزوی قبر نشته زما زوی په يوه هديره کی هم نه دی ښخ شوی زه به په خپل ژوند هيڅ هم پيدا نکړم نه دده مړی اونه دده قبر :
خونه ! يواځی زما هم نه زما په څير دبی شميره پلرونو لټون بی ځايه دی هيڅ په ګوتو نه ورځی هيڅکله به يې پيدا نکړی اوپه هيڅ وخت کی به يې ترڅنګه کښينی دخپلو زامنوقبرونه به په سترګو ونه وينی همداسی به ګرځی لکه دازه چې په زړه سوری سوری ګرځم .
هر کله چې زه پخپلو فکرونواو سوچونو کی دغم او درد اخرنی سرحد ته ورسيږم نويو قسم خوښی او خوشحالی محسوسه کړم داسی چې په تصور کی خپل ورك زوی ډير خوشحاله ووينم په دير ښکلی او خوشبو دار ځای کی دګلونو په باغيچوکی په داسی ارام اوسکون ورکوونکی ځای کی چې هلته نه تربګنی وی نه نفاق وی اونه بدبينی اومنافقت.
هلته دورور ګلوی اودمينی ډکه فضا وی هلته يوه تر بل ځاريدل قربانيدل وی هلته دخودخواهی او ځانځانی نښه نښانه هم نه وی هغه پخپلو کړو او پخپل انجام ډير خوښ وی هغه پخپلو کارنامو وياړی هغه پخپلوخوښيو کی هيڅ کومه نيمګړتيا نه محسوسوی .
هغه ددنياوی ګلونو ، خوښيو او خوشبوييو ته هيڅ کومه اړتيا نه لری دهغه کور ګل او ګلزاروی هغه دنيك عمل څښتن دريښتينو په لار

۷ مخ کي

دنور څلی

مولانا عبدالمجيد

دحضرت عمر (رض) دعدالت اوانصاف څو بيلګی :

دابو فراس حارثی څخه روايت شوی دی چې يو ځل حضرت عمر (رض) په يو عام مجلس کی حاضرينو ته داسی وفرمايل :
ماخپل مامورين (حکام) ددی لپاره نه دی مقرر کړی چې هغوی دی بی له کوم دليله تاسو وټکوی اويا دی تاسی وځوروی اويا دی ستاسی مالونه په غير عادلانه توګه له تاسو څخه واخلی .
که دهر چاسره په دی دول کوم زور زياتی شوی وی هغه دی مهربانی وکړی او ماته دی خپل مظلوميت دايمانداری او امانت داری دشرايطو په پام کی نيولو سره ووايی چې زه ورته دهغه امراو حاکم څخه کسات واخلم حضرت عمرو بن عاص ورته وويل : که چيری يو امر خپل رعيت ته اداب ښيی نو ايا ته به دهغه څخه انتقام واخلی ؟
حضرت عمر (رض) وويل : هو ! په هغه خدای تعالی باندی سوګند چې زما نفس دهغه دقدرت په لاس کی دی چې زه به خامخا ترينه بدله واخلم .
څکه چې ما رسول الله (ص) ليدلی دی چې دخپل مبارك وجود څخه يې بدله ورکوله. حضرت عمروبن عاص (رض) دحضرت عمر فاروق (رض) دخلافت په دوران کی دمصر والی ؤ دی (عمروبن عاص) وايی زه پخپل کور کی ناست وم چې دحضرت عمر فاروق (رض) زوی عبدالرحمن ابوشحمه (رض) اوابو سروعه عقبه بن حارث (رض) دواړه په داسی حال کی راغلل چې يوی او بلی خواته څنګيدل راڅنګيدل او ويی ويل موږ څه نشه يې مواد څښلی او موږ يې بی هوشه کړی يو اوس تاسو ته حاضر شوی يو چې پر موږ باندی (مقرره ثابته سزا) جاری کړی عمروبن عاص (رض) وايی ما په دواړو باندی دخپل کور په (انګړ) کی حد جاری کړ ، په خالق دکايناتو باندی سوګند چې ما ددی موضوع په اړه حضرت عمر فاروق (رض) ته لاڅه خبر نه و وراستولی چې په ناببره توګه ماته دحضرت عمر (رض) لخوا يو خط راورسيد چې داسی يې ليکلی وو:
دلوی او توانا باری تعالی په نوم چې بخښونکی او مهربانه دی .
داليك دخدای دبنده عمر لخوا دعاصی بن عاصی په نوم دی ، دعاصی څويه ! ستاپه جرأت باندی حيرانتيا ده چې تاڅنګه زما دحکم څخه سرغړونه کړيده (دحضرت عمر(رض) دخلافت په دوران کی به دحد دوری (شلاقی) په عام محفل اودخلکو په وړاندی وهل کيدی) څرنګه چې عبدالرحمن بن عمر(رض) ستا درعيت يو سړی دی دهغه سره هغه ډول سلوك پکار ؤ لکه چې دنورو عاموخلکو سره کيږی خو تا داسی انګيرلی چې دادامير المومنين زوی دی نوله ده سره دی له امتيازی سلوك څخه کاراخيستی حال داچی تاته څرګنده ده چې زما لاره داده چې دحق په معامله کی به دهيچا سره هيڅ ډول رعايت نه کيږی .
دليك درسيدو سره سم عبدالرحمن ته د ډبل ټوکر کميس ور واغوندهاو د(عبا) غوندی په سپرلی يې مدينی (منوری) ته راوليږه (دايو ډول مخصوصه سپرلی وه چې دزين پر ځای به ور باندی يوه وړه کجاوه تړل شوی وه) ددی لپاره چې دهغه (عبدالرحمن) مجرميت مشهور شی .
عمروبن عاص دامیرالمومنين (رض) دلارښوونی سره سم عبدالرحمن په هماغه شکل ور واستوه او ور سره يې دحضرت عمر فاروق (رض) په نوم يو ليك ور واستوه چې پکی يې ليکلی وو دموجوداتو په خالق او مالك سوګند چې زه عامو مسلمانانو ته لاڅه چې ذميانو ته هم دخپل کورپه انګړ کی سزا ورکوم اوستا دزوی سره هيڅ ډول امتياز ندی شوی .
داخط دحضرت عمر فاروق (رض) دبل زوی (عبدالله بن عمر (رض)) په لاس وراستولی شوی ؤ کوم وخت چې

په ۷ مخ کي

ارسالي میدیا

ترفندهاي استعمار دربرابر نهضت اسلامي

نهضت های اسلامی در پهناه تاریخ همواره اماج صف آرایی استیلاکران حرفه یی وزورگویان جهانخوار بوده ودر هر مقطعی اززمان که کوچکترین حرکت در جهت تحقق ارمانهای والای اسلام پدید امده باوحشیانه ترین شیوه

یا اراء اکثریت مردم یك کشور در تائید یك نهضت عمل خلاف دیموکراسي است ؟ ایا مردم یك کشور حق راي ندارند ؟ وایا جبهه نجات اسلامي الجزایر برچه اخذراي نموده است ؟

درجهت تعقیم ان بر امده اند این سرد مداران زور و زر در هر برهه تاریخ طبق اقتضای شرایط با اتهامات وعناوین مختلف درپی بدنام ساختن جنبشهای اسلامی برامده واز هیچ تزویری در زمینه دریغ نمی ورزند .

از عناوین دیموکراسی حقوق بشر وغیره بحیث برنده ترین حربه برای در اندازی طرف مقابل استفاده نموده ودر عین زمان همه جنایات خویش رادرلفافه این مفاهیم والفاظ کتمان مینمایند .

بهترین نمونه این مدعا رامیتوان در روند مبارزات انتخاباتی ملت مسلمان الجزایر مشاهده نمود ، زیرا به مجرد گسترش زمزمه های مبنی برنوید پیروزی جبهه نجات اسلامی همه وسایل و رسانه های گروهی ، دشمنان اسلام درشرق وغرب بصد ا در امده ودست به تبلیغات منفی وگمراه کننده اذهان عامه زده وبه اصطلاح ازبه خطر افتادن دیموکراسی وازادی در الجزایر اشك تمساح ریختند ، در حالیکه یگانه امریکای که در الجزایر بوقوع پیوسته بود پیروزی جبهه نجات اسلامی در انتخابات وپشتیبانی قاطبه ملت مسلمان الجزایر ازین روند بود .

بناءً این سوالات در ذهن هر انسان خطور می کند که ایا اراء اکثریت مردم یك کشور در تائید یك نهضت عمل خلاف دیموکراسی است ؟ ایا مردم یك کشور حق رای ندارند ؟ ایا جبهه نجات اسلامی الجزایر به زور برچه اخذ رای نموده است ؟

بدیهیست که دشمنان اسلام در صورت تحقق پیروزی نهضت های اسلامی خواب زوال خویشرا دیده اند ادامه این برخورد های خصومت امیز با یك کشور ویك ملت اسلامی محدود نبوده واین توطئه در همه ابعاد وساحات فراگیر نهضت های اسلامی بوده ودرخلال جهاد ۱۳ ساله مردم افغانستان نیز مصداق عینی دارد .

دراغاز امر پشتیبانی کشور های سلطه جو از روند جهاد درافغانستان فقط بر اندازی حریف ، یعنی شوروی انوقت بود وانهم در سطح ناچیز اما جریان حوادث و رویداد ها ثابت ساخت که با منکوب شدن روسیه متجاوز توسط مجاهدین وفروپاشی امپراطوری سرخ اهداف ایشان بر اورده گردیده واکنون که خطر رفع ومجاهدین درشرف پیروزی اند ، حربه برای تبلیغات خویش رادر جهت مخدوش ساختن سیمای سیاسی مجاهدین بکار بسته و اتهامات مختلفی رانثار جهاد گران مومن مینمایند .

دشمنان اسلام از شیوه های مختلف درین زمینه ها سود برده وبرای مساعد ساختن زمینه در جهت به کرسی نشاندن مهره های خاص شان صفوف جهاد را به دسته ها وکتگوریهای مختلف نامگذاری وتقسیم نموده ودر نهایت احساس عدم اعتماد رادرمیان رهبران جهادی وملت مجاهد افغان القاء مینماید .

با توجه به موارد متذکره هر فرد مسلمان بخصوص رهبران جهادی بایست در تشخیص توطئه های استکبار از نهایت فراست ودرایت کار گرفته ودرجهت عقیم ساختن این دسایس یکرنگ ویکدست همت گمارند

صفحه ۷

مجاهدینو په تیرو لسو میاشتو کی دخوست....

استعمال کړي

عزتمنلو ورونو! لس کاله څخه لنږ وخت ندی ددغه اوږدی مودی په هره ورځ هره لحظه هره میاشت او هر کال کی به روسانو څومره ګولی استعمال کړي وی او څومره بمونه به یی غورځولی وی ...

زما محترمو ورونو ! دالله تعالی له ډیرو مبارکو اقوالو څخه څرګندده دہ چی هغه مسلمانان چی دکفر مقابلی ته دریدلی دی هغوی دالله تعالی او لیا دی اودغه اولیاوو ته ضرر رسول په حقیقت کی له الله تعالی سره مقابله ده .

لدی پرته هغه څوك چی دالله تعالی په لار کی جهاد کوی له هغوی سره الله تعالی وعده کړي چی مرسته به ورسره کوی او فتحه او نصرت به یی په برخه کوی دبدر په غزا کی الله تعالی په یوه موټی خاورو دټولو کفارو سترګی ړندی کړي او مسلمانانو کفار پخپلو وسلو وځپل اوله ذلت اوشکت سره یی مخامخ کړل .

ورونو ! دافغانستان دجهاد له پیله تر اوسه نژدی ۱۸ کاله کیږي ، وسله وال جهاد په حقیقت کی په ۱۳٥٤ هـ ش کال کی شروع کیږي هغه وخت زموږ په تصور کی هم نه تیریدله چی دمنځنی اسیا هیوادونه به ازادیږي او روسی امپراطوری به دړی وړی کیږي .

کمونستانو ۸۰ کاله هلته یوه ډیره وحشی او خونړی دکتاتوری او نظام مسلط کړي ؤ پدغه موده کی یی په اسلامی ریاستونو کی په زرګونو جوماتونه او مدرسی له منځه وړي او په لکونو مسلمانان یی شهیدان ــ بندیان او تبعید کړیدی .

عزتمنلو ورونو !

روسان دمسلمانانو وینو وشرمول ، دروسانو فجایع په تاریخ کی ساری نلری ، دهمدغو وینو له برکته دکمونیزم وحشی امپراطوری ړنګه شوه او زموږ له تصور نه لوړ کار وشو ، اوس موږ وینو چی شوروی اتحاد له منځه تللی روسان له ذلت او رسوایی سره مخامخ شوی او په اقتصادی بحران کی ښکیل شوی دی .

ورونو !

دروسانو دتوطئو دسیسو او فجایعو نتیجه ده چی په افغانستان کی دجګړي لمبی لا بلی دی دغه خلك چی ګلم جم او یادي ورته نورو نومونو سره یادیږي نوی دمسلمانانو پر ضد جنګیدل او وحشیانه او غیر اسلامی کارونه یی تر سره کول داسی چی مجاهدینو له نوی سره په جګړه دځان مرګ شهادت او دنوی مرګ یی مردار والی ګاڼه چی بیا الله تعالی دخپلو ایتونو دتطبیق لپاره مجاهدینو ته تسلیم کړل اوس دډیری نیکمرغی ځای دی چی نوی دظلم او ګلم جم نوم لهځان څخه لیری کړ .

مجاهدینو دنوی په مقابل کی له ډیری مهربانی او مرحمت څخه کار واخیست چی نوی ته یی عفوه وکړه که څه هم دنوی له لاسه ډیر مجاهدین شهیدان شوی داسی چی دځینو لا وینی نه دی وچې شوی او دفن شوی لانه وؤ دزخمیانو له پرهرونو لا نوینو داری روانی وی چی نوی دمجاهدینو لاس ته ورغلل خو مجاهدینو بیا هم نوی عفوه کړل مجاهدینو وویل چی داکسان په جهل کی لویدلی او په ناپوهی سره دمسلمانانو پر ضد استعمال شوی خو اوس چی دملحد

تاسي ته الله تعالي ډیر ستر نعمت درپه برخه کړیو خو داچي ژوندي یی وساتلی اودهدایت په لار یی روان کری

۶ مخ کي

دنور په لور

زه ولی مسلمان شوم ؟

باغلی یوسف اسلام «کیت ستیفن انگلیسی»

دساینس او تکنالوژی په دی حیرانوونکی دور کی ، داتوم او کمپیوتر په زمانه کی دمادی تمدن دمعراج په اوسنی حال کی بیا هم انسان ستړی دی ستومانه دی ، نا ارام دی ، دسترګو په رپ کی ټوله نړی لیدلی شی ، دنړی دښکلا او ښایست نمونی یی په مخ کی دی ، دراحت او ارام ټول اسباب یی پوره وی ، خو ارامی او سکون یی نه دی موندلی او سرګردانه دی ، دنن انسان تر پرون ډیر ناکرار دی تر پرون ډیر ستومانه دی او تر تیرو وختونو زیات اندیښمن .

ځکه ارام او سکون په مادی دنیا کی نشته ، په مادی راحتونو او نعمتونو کی نه ده نغښتی اودساینس او تکنالوژی جادو او کرشمی څوك نشی ارامولی ، چاته نیکمرغی راحت او ذهنی سکون نشی وربخښلی ، ترڅو دهغه اروا ارامه نشی اوارروا بیا په روحانی معراج ارامیدای شی وګوری دتمدن له زانګو اروپا نه دمادی نعمتونو په سمندر کی ډوب یوه سرګردانه انسان کیسه چی ارامی یی څه وړ وموندله

***

زه په ۱۹٤۸ کال کی دلندن په یوه ګوټ کی زیږیدلی یم ، پلار می دقبرص اومور می دسویډن اوسیدونکی وه پرمایی نوم کیت ستیفن کیښود ، له وړوکتوبه می له موسیقی او سرود سره مینه وه او چی کله ځوان شوم ، دموسیقی او سرود په رنګینه دنیا ورګډ شوم ، خپله لوموړی سندره می پخپله ولیکله اودهغی دموسیقی کمپوز می هم خپل ؤ چی ډیر کامیاب ؤ ورو ورو مایه دغه رنګینه دنیا کی ځان ته ځای نیوه ، او بیا یو وخت زه دلویدیځی نړی تر ټولو ستر او معروف سندر غاړی شوم ماته دموسیقی دپلار او پاچاوپاړونه راکړل شول یو کیت به می د لکونوپه شمیر پلورل کیده ، ددنیا او دولت باران راباندی جاری شو ، دنځا اوسندرو دمحفلونو لازمی جز وګرځیدم ، دنړی ډیرو مشهورو ځایونو ته می سفرونه وکړل دشهرت او دولت اندازه می له حسابه ووتله ، خوله ماسره یوه نارامی ملګری وه ، یو ډول کمی می محسوساوه ، یو ډول ذهنی اندیښنه می په ماغزو کی وه چی سره له دومره دولت ، شهرت او رنګین ژوندانه زه ورڅخه خلاص نه شوم دشرابو جامونو ته می پناه یو وړله ، خو هغو هم له مانه دغه ناارامی اواندیښنه لری نه کړای شوه، زما اروا تږی وه ، او همداسی تږی پاتی شوه ، زما ددغی ذهنی پریشانی دوا ، هیچیری اوپه هیڅ شی کی نه وه همدغسی وم ترڅو یوه ورځ ما دهدایت کتاب « قران » وموند .

زما دټولو ناکراریو ځواب په همدی کتاب کی و ، زما داندیښنو او ذهنی تشویش چاره همدغه کتاب « قرانکریم » راپه ګوته کړی وه او بالاخره زه په ۱۹۷۷ کال کی کیت ستیفن څخه یوسف اسلام شوم اوداسلام مبارکی غیږی ته می پناه راوړله .

کله چی زه خدای (ج) داسلام په ستر نعمت ونمانځلم اوس زما داهوډ دی چی دژوند تر پایه به دغه مبارك دین

۷ مخ کي

مجاهدينو د تيرو لسو مياشتو په ترڅ کې ...

رژيم نظام په خوست کې رنګ او له منځه تللی نو دوی مرګ دومره کټور ندی لکه چی دوی ژوند کټور دی که چيرې دوی ژوندی پاتی او تربيه شی کيدی شی هدايت ورته حاصل شی او پدی توګه له عذاب څخه نجات ومومی .

دومره خبره داچی دمجاهدينو حسن معامله اوله انتقام څخه تيريدل اودوی سره نيکه او اسلامی رويه کول به دنورو لپاره عبرت شی او پدی به وپوهيږی چی دملحد او ګوډاکی نجيب په څنګ کی دريدل او دمجاهدينو په مقابل کی جنګيدل څومره ستر خيانت او ناروا عمل دی .

که څه هم کمونستانو او روسانو کله چی مجاهدين ژوندی نيولی لدوی سره يی ډير ظلم او تيری کړی او په ډيره بی دردی يی شهيدان کړيدی دکونړ دکراړی واقعه زموږ ټولو په ياد ده هلته يواځی ٦ ملحدين دمجاهدينو ديوه ناځاپی بريد له امله وژل شوی وُ خو کمونستانو دهغه کلی ټول اوسيدونکی چی شمير ۱۱۰۰ تنو ته رسيده راغونډ کړل اوپه ډله ائيزه توګه يی شهيدان کړل .

که څه هم ددغه کلی اوسيدونکو دهغه کمونستانو په وژلو کی هيڅ لاس نه درلود ، خو لدی کبله چی دا واقعه ددوی دکلی سره نژدی پيښه شوی وه نو دهغوی په بدل کی يوولس سوه بيګناه کليوال په ډيره بی دردی سره شهيدان کړل لدی پرته نوری داسی ډيرې ترخی پيښی را منځ ته شوی يواځی له څلويښتو زرو زيات افغانان په جيلونو کی تری تم ورک شوی او ژوندی تر خاورو لاندی شوی دی .

په خوست کی نيول شوی عسکر او مليشه بايد دالله تعالی په دربار کی شکر ادا کړی چی دوی داسی مجاهدينو ته په لاس ورغلل چی دوی ته يی هم دتيرو اعمالو عفوه اعلان کړه .

عزتمندو ورونو ! په خوست کی له ۱۷۰۰ تنو څخه زيات عسکر زموږ مجاهدينو ژوندی نيولی چی يو شمير يی لدی مخکی دبيلابيلو مناسبتونو په اساس خوشی شوی دی ځينی دعيدونو او ځينی هم په بيلابيلو نورو مناسبتونو خوشی شوی او اوس دادی له زرو تنو څخه زيات عسکر او مليشه خوشی کيږی موږ به انشاالله دافسرانو په باره کی هم يو فکر وکړو او په دی رابطه به هم يوه سمه فيصله اعلان کړو .

دغه عسکر او مليشه چی دڅومره لوی جرم مرتکب ګرځيدلی وو او دمسلمانانو دوينو توييولو له امله لوړو رتبو ته رسيدلی او مادی امتيازات يی ګټلی دی مجاهدينو ورڅخه هيڅ ډول انتقام وانه خيست اوعفوه يی ورته وکړه او په همغه سختو او جذباتی حالاتو کی يی ورسره حسن سلوك وکړ اوله يوی مخی يی معاف کړل اوبيا يی دلسو مياشتو لپاره ځکه وساتل چی اسلام تربيه ورکړی داسلام له احکامو يی خبر کړی واقعيتونه ورته وښيی او له حقايقو سره يی اشنا کړی .

له همدی ځايه وه چی دوی

> **لدي عسکرو او مليشه وو څخه زما هيله داده چي بيا دملحد رژيم ليکو ته ورګډ نشي که خداي مکره داسي وشول هرو مرو به دوي ته جزا ورکړي شي**

دسر په سترګو وليدل چی دمجاهدينو په سنګرونو کی نه کوم امريکايی شته نه چينايی اونه هم عرب او پاکستانی بلکی دوی پخپلو سترګو وليدل چی دجګړی قيادت او قومانده خپله دمجاهدينو په لاس کی ده نه دبل چاپه لاس کی .

عزتمندو! موږ کولی شوای چی لدوی څخه انتقام واخلو که موږ داسی کړی وای يو به هم ژوندی نه وُ پاتی ، خو موږ له دوی نه مجاهدين او افغانان جوړ کړل مسلمانان مو تربيه کړل ، دوی هم پخپل وار ډيره ښه قربانی ورکړه څه يی چی له لاسه پوره او زده وو هغه يی ترسره کړل لدوی څخه ځينی دملحد دښمن دوحشيانه بمباری او سکد ويشتنی له امله زخيمان او شهيدان هم شول ، پدی توګه دوی له مجاهدينو سره په خپل وخت کی ښه همکاری وکړه موږ له دوی نه ممنون او مشکور يو چی دوی ښه خدمتونه ترسره کړيدی .

عزتمندو ورونو !

دوی ته يوه عفوه دخوست دفتحی په وخت کی شوې وه چی نه به وژل کيږی اويوه عفوه اوس ورته کيږی، موږ اوس دوی ته يو سند ورکوو او ددوی دخدمت تائيد کوو، دوی له موږ سره بنديان نه وو بلکی له موږ سره يی لکه دمجاهدينو وخت تير کړی خدمت يی کړی دمجاهدينو طرف يی نيکبختی ګڼلی او په تيرو اعمالو يی پښيمانی ښکاره کړيده .

خو لدوی څخه زما هيله داده چی بيا دملحد دښمن ليکو ته ورنشی که خدای مکړه داسی وشول اوبيا پر دوی زموږ لاس بر شو نو هرومرو به دوی ته جزا ورکړی شی .

دپيغمبر (ص) په حضور کی هم چی چاتوبه ايستلی پيغمبر (ص) هغوی عفوه کړی خو چی ځينی يی بيرته دکفر خواته اوښتی دی بيا يی هغوی ندی عفوه کړی او واجب القتل يی ګڼلی دی .

اوس چی په خوست کی نيول شوی عسکر او مليشه خلاصيږی داتعهد تری اخستل کيږی چی بيرته به کفارو ته نه ورځی که داسی يی وکړل نو په اخرت کی به الله تعالی سخته جزا ورکوی او په دنيا کی به هم له رسوايی سره مخامخ کيږی بيا بايد دوی دهغوی توقع ونلری موږ اوس دوی ته بشپړه ازادی اعلانوو او واك ورکوو چی که کورونو ته ځی او که دجهاد لپاره په غونډونو کی پاتی کيږی پدی صورت کی کوم حقوق چی مجاهدينو ته ورکول کيږی دوی به هم له هغی څخه برخمن وی زموږ له طرفه دوی ته اجازه ده چی ځی اوکه پاتی کيږی خو پدغه وعده به هرو مرو وفا کوی چی بيا به ملحد حکومت – ګلم جم او رشيد دوستم ته نه ورځی .

اوس چی دکمونيزم بت هم نسکور شوی او دنجيب رژيم هم متزلزل دی او دمرګ په پوله ولاړ دی نو دوی بايد دغه تعهد مرهات کړی چی کفر ته به نه ورځی خو ک چی دا تعهد تجديد کوی لاسونه بايد او چت کړی .

(پدی وخت کی ټولو خپل لاسونه اوچت کړل او دتکبير ناری يی پورته او اسلامی شعارونه يی ورکړل) .

ورونو !

داخبره زه ددی لپاره تاسی ته کوم چی تاسی ته الله تعالی ډير ستر نعمت درپه برخه کړ يو خو داچی ژوندی يی وساتلی او دهدايت په لار کی روان کړی تاسی به په جګړه کی دوژل شويو افرادو حال ليدلی وی چی څه بد حال يی وو .

تاسی هم پخپل وار ښه امتحان وکړ صبر مو وکړ او دادی داسلام په رڼا کی الله تعالی کامله ازادی در په برخه کړه .

تاسی پخپلو سترګود ملحدينو او کفارو ناوړه اعمال او فجايع هم ليدلی او اوس مو دادی دمجاهدينو وضعه هم له نژدی څخه وليدله اوس پخپله قضاوت کولی شی چی حق کوم او باطل کوم دی .

ورونو !

تاسی ډير خدمتونه کړی او تکليفونه مو ګاللی دی کيدی شی کوم مجاهد تاسی ته يوه نيمه ترخه خبره او ستغ برخورد در سره کړی وی خو دا زموږ نظر او داسلام حکم ندی بلکی دهغه شخص غلطی او خطايی ده او دهغه دعلم دکمزوری له امله واقع شوی ده .

هيله ده تاسی به پدی نه وی زهير شوی .

ورونو! زه يو ځل بيا تکراروم چی تاسی ازاد ياست خو دا تعهد به تجديد کوی چی بيا به کفر ته نه ورځی که له موږ سره په خپله خوښه پاتی کيږی ياله بل جهادی تنظيم او ګروپ سره پاتی کيږی تاسی ته اجازه ده موږ درسره مرسته کوو.

په هغه وخت کی چی تاسی نيول شوی يی کومی پيسی چی له تاسی سره وی دهغو لستونه موجود دی هغه به له اسنادو سره بيرته در وسپارل شی دهرچاپيسی چی امانت ايښودل شوی دهغو لستونه موجود دی ټولو ته به بيرته ورکړی شی.

تاسی هر يوه ته ۲۰۰ کلدارئ يا ۱۰۰۰۰ افغانی

۷ مخ کي

دنبوی (ص) لمر زرينی ...

تر کومه حده چی دابوبکر صديق (رض) دهمت ، پخی ارادی ، ثبات په خدای (ج) توکل اوهوښيار تيا اثر وو ، همدومره پکی دخالد (رض) جوهرداره توری او دجګړی په تکتيکونو پوهی هم فيصله کوونکی کردار تر سره کړ.

رسول کريم (ص) دموتی دپيښی دانتقام اخيستلو لپاره داسامه بن زيد (رض) ترقيادت لاندی ديوه لښکر دليږلو اراده کړی وه ، ولی دلښکر تر روانيدو مخکی حضرت رسول اکرم (ص) لدی دنيا نه سترګی پټی کړی .

ابوبکر صديق (رض) خلافت ته په رسيدو سره په لومړی فرصت کی دغه لښکر واستولو، حضرت عمر (رض) او نورو صحابو کرامو دانظر درلود چی پداسی کړکيچونو حالاتو کی چی ټولو عربو بغاوت کړی ، او ددار الخلافه امنيت په خطر کی دی بايد دپوځ ليږل وځنډول شی ، ولی حضرت ابوبکر صديق (رض) نظر درلود چی دکوم لښکرد روانيدو حکم چی رسول کريم (ص) ورکړی وی دی دهغی استول څنګه ځنډولای شی ؟

دغه لښکر تر اويا ورځو وروسته په پوره برياليتوب او دغنيمت دبی شميره مال سره يو ځای راوګرځيد ، او ددی سره له يوی لوری باغی قبايلو او مرتدينوته دا ښکاره شوه چی ددوی دبغاوت او ارتداد سره سره دمدينی اسلامی خلافت دروم په څير له نړيوال قوت سره دټکر او مقابلی توان لری ، بل لوری ته دروم اوايران داخوش فهمی هم رفع شوه چی ګواکی دوی به دعربانو له داخلی کړکيچ اوا ړدوړ څخه څه ګټه واخيستلای شی .

تردی وروسته ابوبکر صديق (رض) دباغی قبايلو، دزکات دمنکرينو او مرتدينو دټکولو په لور توجه وکړه ، او يولس لښکری يی بيلابيلو سيمو ته وليږلی پدی لړ کی خالد بن وليد (رض) ته دطلحه بن خوليد او تر هغی وروسته دمالك بن نويره لوری ته دټلو حکم وشو طليحه بن خوليد اسدی دنبوت کاذبه ادعا کړی وه ، او ځينی قبايل دهغه تربيرغ لاندی راټول شوی وو خالد (رض) يوځلور زره کسيز لښکر ورسره کړ ، او ده نجد » لوری ته يی پرمختګ وکړ ، خالد بن وليد او عدی بن حاطم طايی (رض) دمذاکراتو له لاری دبنوطی دقبيلی ګڼ شمير افراد بيرته داسلام لوری ته راوګرځول ، دخالد (رض) اوطليحه اسدی دلښکرو تر منځ دبزاخه په سيمه کی نښته وشوه ، طليحه ماتی وخوړه اودشام لوری ته يی تيښته وکړه ډير کسان مړه شول ، او څه چی ژوندی پاتی شول هغی توبه وايسته او داسلام په لښکر ورګډ شول .

دبزاخه له سيمی څخه جنوب ختيزی لوری ته دبنو تميم اوبنو حنيفه دقبايلو سيمی وی ، خالد (رض) لومړی دبنو تميم لوری ته پرمختګ وکړ ، چی دهغوی قيادت دمالك بن نويره په لاس کی وو او مالك دنبوت دکاذبی دعويداری ښځی سجاح سره ملګريتوب کاوه ، خالد (رض) دلته هم دمذاکراتو کار واخيست او دبنو تميم قبيلی اکثريت يی دمالك بن نويره څخه را غوڅ کړل يوازی بنی يربوغ تر اخره پوری دمالك تر څنګ ولاړ وو خالد (رض) له هغوی سره جګړه وکړه دمالك بن نويره ډير ملګری يی له منځه يووړل ، اوپخپله دی يی ديو شمير نورو باغيانو سره په اسارت ونيو کله چی پدی سيمه کی پوره امنيت او ارامی منځ ته راغله ، نو دخلافت له مرکز څخه خالد (رض) ته دبنو حنيفه دقبيلی لوری ته دوړاندی تګ امر وشو ، ددی قبيلی دباغيانو مشری مسليمه کذاب کوله چی دنبوت دکاذبو مدعيانو په ډله کی دذهانت ، پوهی او جنګی قوت له لحاظه تر ټولو لوړ وو ، يوازی دبنو حنيفه په قبيله کی پدی وخت کی ۴۰۰۰۰ جنګياليان وو ، مسلمه کذاب له چالاکی څخه کار واخيست او له سجاح سره يی واده وکړ ، اوپدی توګه يی دبنو تميم قبيلی ملګرتيا هم تر يوه وخته ترلاسه کړه ، مسلمه کذاب داسلامی لښکر سره تر نورو مرتدينو زيات مقابله وکړه ، دی لوری ته دلومړی ځل لپاره دعکرمه بن ابی جهل په مشری دمسلمانانو يو لښکر استول شوی وو خو ماتی يی وخوړه ، وروسته بيا شرجيل بن حسنه ور واستول شو ، ولی هغی ته يی هم ماتی ورکړه ، ديمامه په سيمه کی خالد (رض) اومسلمه کذاب سره مخامخ شول دکذاب سره ۵۰ زره لښکر وو پداسی حال کی چی دمسلمانانو شمير خورا کم وو ولی ددوی اصلی قوت په حق دين باندی ايمان او دهغی دسرلوړی لپاره دځان قربانولو جذبه وه شديده جګړه ونښته ، دمسلمه کذاب پوځونو له لومړی سرڅخه پر مسلمانانو فشار راوړ ، بل لوری ته دجنوب له خوا نه سخته سيلی پيل شوه ، او دريګ څپی دمسلمانانو پرمخ لګيدلی ،

نور بيا

مجاهدینو دتیرو لسو میاشتو په ترڅ کی ...

موږ دیوی وړی تحفی په توګه درکوو که څه هم ستاسی حق ډیر دی خو زموږ لاس ډیر تنګ دی .
ترهغی چی تاسی خپلو سیمو ته دتلو امکانات پیدا کوی زموږ دهر مرکز او دفتر دروازی ستاسی پرمخ خلاصی دی او زموږ میلمانه یاست .
ستاسی ځینی خپلوان په پیښور او یو ځای او بل ځای کی موجود دی ترهغی چی له دوی سره مونه وی لیدلی باید پخپل سر خپلو سیمو ته ولاړ نشی ځکه ستاسی خپلوانو له موږ څخه ددی غوښتنه کړی ده .
نور مو په لوی او توانا خدای سپارم
واخر دعونا ان الحمد لله رب العالمین
دحقانی صاحب له وینا وروسته په عسکرو او ملیشو داسناد وویشل پیل شول ددوی اسنادو له ۲۰۰ کلدارو ، یو جوړ جامو،یوه وړین ټادر ، یو جوړه څپلیو اویوه واسکټ سره ورکړل شول .
په سند کی لیکل شوی:دغه پوځیان چی دخوست په ویاړمنه فتحه کی دالحاج حقانی دمجاهدینو له خوا نیول شوی له لس میاشتی خدمت او تربیی وروسته ورته دهغوی دصادقانه خدمت له امله دا سند ورکول کیږی هیله ده مجاهدین ورته کوم تکلیف پیدا نکړی او لازمه مرسته ورسره وکړی .
عسکرو او ملیشو کله چی دحقانی صاحب له خوا سنلونه او نقد او جنس ترلاسه کول د خوښیو په یود ناپایه سمندر کی یی دمجاهدینو دمهربانیو او شفقتونو په وړاندی دشکران او امتنان مراتب څرګندول او په موټرو کی میرانشاه ته وړل کیدل .
دمحفل په پای کی دبی ، بی ، سی نماینده حامد علمی او دجنګ او تکبیر استازی سلطان صدیقی دخوست له فاتح سره لنډی مرکی هم وکړی چی موږ به یی پخپل وار خپری کړو،کتونکی او مبصرین وایی دنړی دجنګونو په تاریخ کی دالومړنی ځل دی چی په دومره ګڼ شمیر جنګی اسیران بیله کومی سیاسی سودا بازی خوشی کیږی دایقیناً دخوست د فاتح الحاج حقانی یو داسی سیاسی بریالیتوب ګڼلی شی چی دمجاهدینو موقف په نړیواله سویه روښانه او پیاوړی کوی .

ترفندهاي استعمار • • •

بدیهیست که دشمنان اسلام تاآخرین لحه در جهت جلوگیری از استقرار نظام اسلامی درافغانستان وهرکشوریکه باشد از هیچ نوع توطئه فرو گزارنه نموده و زمینه رابرای تسلط خویش باز میگزارند .
بناءً یگانه امریکه در این مرحله حساس وسرنوشت ساز بحیث ضرورت مبرم پنداشته میشود روحیه اتحاد وسازگاری در میان زعمای جهاد و مجاهدین است تا جلو هر نوع نفوذ ومداخله خارجی گرفته شده درمسیر تشکیل وتحقق حکومت اسلامی که نتیجه منطقی روند جهاد است گام برداشته شود .

دورکی اعلان

خان زمك ، دزرك زوی دپکتیا ولایت دوزی ولسوالی اوسیدونکی چی په قوم ځدران دی دلسو ورځو راپدیخوا په پیښور کی لادرکه شوی دی که څوك دهغی په هکله څه معلومات لری یا چا لیدلی وی مهربانی دی وکړی په لاندی ادرسونو دی خبر ورکړی :
دمولانا جلال الدین حقانی دجبهاتود نمایندگی دفتر حیات اباد فیز ۲ مرغزار رود تلفون نمبر ۸۱۰۴۸۲
دمولانا جلال الدین حقانی

دجبهاتو دفرهنګی تولنی دفتر حیات اباد - باغ ناران تلفون نمبر ۸۱۲۸۸۱
دمولانا جلال الدین حقانی سیاسی مهمانخانه ابدره روډ - دریل پټلی په غاړه تلفون ۴۱۷۴۶

لټون • • •

دشهیدانو په قافله کی دابدی خوښیو په لور تللی وی هغه دغه دخاورو ډیری ته هیڅ کوم ضرورت نلری چی یادی وی اویا نه .
یواځی هغه هم نه دهغه همدغه شان بی شمیره وړونه چی دحق په ملګرتیا دسرو کافرانو دلاسه دابدی خوښیو په لور تللی کامیاب سرلوړی او ژوندی دی دهغوی نه قبر معلوم دی اونه لحد خو داستوګنی ځای یی معلوم دی همغه ځای ، دی همغه دحق دلاری دپتنګانو ځای، دشهیدانو او غازیانو ځای اودجنتیانو ځای !!...

دافغانستان دمسالی • • •

پردی برسیره محلی ، مذهبی ، قومی او دژبی اختلاف دافغانستان مسٔلی دحل په لار کی مشکلات پیدا کوی خو تر ټولو ذکر شویو مطالبو زوروټکی او مهم فکتور بیا هم په ډول ډول رنګونو او څیرو له بهر څخه مداخله وه او ده په دی ډول سره په سلګونو نور غټ او واړه اختلافات ربړی او عوامل دی چی دافغانستان مسلمان ولس په کټه دافغانستان لانجی دحل مخه نیسی.په اوسنیو شیبو کی دافغانستان درډوونکی مسٔالی په اړوند دوه عمده حرکتونه وجود لری چی یوه یی داسلامی بنیادګرایانو په نوم شهرت پیدا کړ کوم چی دافغانستان مسٔالی دحل په نظامی اړخ تاکید کوی خو سیاسی اړخ یی هم دمعینو شرایطو لاندی نه ردوی ، په داسی حال کی چی غرب او دهغوی طرفداری ډلی او اشخاص او همدارنګه یو شمیر جهادی تنظیمونه هغه چی په فعلی حالت کی یی موثریت نسبتاً کم دی ، دنوموړی مسٔالی دسیاسی حل لوری تائیدوی اودبنیاد ګرایانو اسلامی او جهادی تنظیمونو دخوښی دولت له جوړښت سره مخالف دی خو په موجودو شرایطو کی دواړه خواوی دیوه او بل دبریالیتوب په مقابل کی مشکلات ایجادولای شی په داسی حال کی چی ددی حقیقت څخه سترګی پټول هم کومه ګټه نلری هغه داچی په راتلونکی کی بریالیتوب دهغوی په برخه دی چی دمقابل لوری په تناسب دپرمختګ مناسب او مساعد شرایط لری او مقابل لوری یی دنزول او دسیاسی قدرت نیولو امکاناتو د لاسه ورکولو په درشل کی قرار لری .
نوددی لپاره چی په راتلونکی کی مو داسلامی خپلواك دولت درامنځ ته کیدواود هغه ددوام په لار کی خنډونه له منځه وړی وی داداهمیت او غور وړ مطلب دی چی باید دافغانستان مجاهد او مسلمان ولس منځ ته ورشو دهغوی غوښتنی واورو او درك یی کړو بیا دهغوی په نظر کی نیولو سره خپل پلانونه او جهادی هلی ځلی سمبالی اوپرمخ بوزو. سره ددی چی دسیاسی تنظیمونو اوډلو کیفیت اودبریالیتوب راز په هر هیواد کی چی وی اودهری ایډیالوژی پیروی په دی کی دی چی په کومه اندازه دخپلو ولسونو غوښتنو ته غوږ نیسی او په عملی کولو کی یی اقدامات کوی خو بیا هم ډلی او تنظیمونه دولسونو بحر ته دځاځکی مثال لری.دافغانستان مسلمان ولس په رښتیا چی ګلکه اسلامی عقیده لری خو دهغی په څنګ کی دهغوی کلتوری ، روحی ټولنیزو خاصو اړیکو او افغانی خصوصیاتو او کړو وړو څخه سترګی پټول نا مطلوبی نتیجی را منځ ته کولای شی نو دهغوی اسلامی اوملی یووالی پخاطر اګاهانه او سنجول شوی عمل ته ضرورت دی .
دافغانستان ددرد وونکی مسٔالی له پیدایښت څخه راپدیخوا اوس تر ټولو زیات اونوی شرایط دهغی دحل په رابطه رامنځ ته شوی خو دغه امکانات اودحل کیدو شرایط ښه اوید اړخونه هم لری اوکه دهغوی نازکو او حساسو نقطو ته جدی پام ونه شی اولازم قدمونه پورته نشی،دافغانستان مسلمان ولس لپاره دنه جبران کیدونکو زیانونو عامل کیدای هم شی
نو په اوسنیو شرایطو کی ضرور او لازمه ده چی په لومړی قدم کی جهادی تنظیمونه دراتلونکی اسلامی دولت درامنځ ته کولو په منظور سره یو او واحده تګ لاره غوره کړی ددی په څنګ کی ټولو هغو اشخاصو او ډلو ته په دغه څپاند بهیر کی دګډون بلنه ورکړی چی دجهاد په مقابل کی یی خیانت او جنایات نه وی تر سره کړی او دافغانستان داسلامی دولت او ولس په ترقی او انکشاف کی مثبت رول لوبولی شی .

زه ولی مسلمان • • •

هغه ستومانه او مادی تمدن وهیلو ته رسوم چی دذهنی سکون او روحی تسکین په لټه کی سرګردانه دی .
ښاغلی یوسف اسلام تیره میاشت دپاکستان دجماعت اسلامی لخوا په یوه سیمنیار کی په خطاب کی وویل :
نن داسلام او لویدیځ تر منځ مسله یو دبل پیژندل او تعارف دی ، زیاتره مسلمانان نه پوهیږی چی لویدیځ څه غواړی اوڅه شی دی ؟ همدارنګه ډیر لویدیځیان په دی نه پوهیږی چی اسلام څه شی دی څه غواړی او څه ورړ دین دی لویدیځ دحقیقت پالنی او تجربوی حقیقت دعقیدی دعوه کوی خو داسلام په باب یی دحقیقت نه لری ظالمانه دریځ غوره کړی هغوی دمسلمانانو پرخلاف دښمنانه دریځ نیسی پر فلسطینیانو داسرائیلو دیرغلونو او حملو کلك ملاتړ ددیموکراسی او جمهوریت غوښتنه ګڼی ، اواسلام دیهودی ذهن له هنداری نه ګوری چی په هغی (اسلام) دترور وینو توبولو اوله ښځو سره دناروا چلند دین نوم ږدی .
نن دنړی له هر ګوټ څخه مسلمانان لویدیځ ته ځی اوبیا داتګ دهجرت په نوم مسما کوی خوداهجرت اصلاً ددین لپاره نه ددنیا درنګینو لپاره دی اولویدیځ وال هم غواړی هغوی له ځانه سره همرنګ کړی .
... خو الله موږ مسلمانان ددنیا دخلافت لپاره پیدا کړی یو ، مسلمانان باید دخدای (ج) په لاره کی دجهاد او حقانیت لاره ونیسی که داسی وشی خدای (ج) به یی ددنیا تر ټولو ستر عزت اوعظمت په برخه کړی .
دافغانستان جهاد داسلام دحقانیت اودمسلمانانو دبرلاسی ژوندی ثبوت دی افغانی ولس دخپل دین او عقیدی ددفاع لپاره اوچت شوی او الهی نصرت یی په برخه شو ، اوس که دشوروی اتحاد دنړیدو او ټوټه کیدو هر څومره ساینسی دلایل اوسببونه بیان شی هم په دی کی دافغانی مجاهدینو رول څوك نشی هیرولی ، موږ باید نړیوالو ته دجهاد فلسفه هم واضح کړو ایا له جنګه پرته سوله راتلی شی ؟ بیا نو داسلامی جهاد په باره کی موږ ولی دومره مذبذب وو ، داسلام ځلاند تاریخ ښیی چی مسلمانانو دادنیا دوسلو په زور نه داخلاقو سپیڅلی عقیدی او ښکلو کړو وړو په اثر فتحه کړیده.

دنور څلي • • •

عبدالرحمن مدینی ته را ورسیده نو عمر فاروق (رض) دوهم ځل وریاندی حد جاری کړ.
دانس بن مالك (رض) څخه روایت دی چی وایی دمصریو سړی راغی اوعمر فاروق (رض) ته یی عرض وکړ : مادعمرو بن عاص (دمصر والی) د زوی سره دمنډی وهلو مقابله کوله خو کله چی زه دهغه څخه مخکی شوم او مقابله می وګټله نو هغه کوتك راواخیست اوزه یی ووهلم او راته یی وویل زه دشریف او عزت مند مور او پلار اولاد یم .
حضرت عمر (رض) عمرو بن عاص ته ولیکل: دزوی سره دی یو ځای دلته راحاضرشه کله چی دواړه راغلل حضرت عمر (رض) مصري سړی راوغوښت او ورته یی وویل کوتك واخله او خپل کسات دی ور څخه واخله مصري دهغه په وهلو پیل وکړ :انس بن مالك (رض) وایی موږ خو دعمرو بن عاص دزوی په وهلو خوشحاله وو اما هغه دومره زیات وواهه چی موږ نور پخپل زړه کی دا ارزو وکړه چی باید نور یی وهل بس کړی .
بیا حضرت عمر (رض) مصری ته وویل چی عمرو بن عاص هم یو کوتك ووهه خو هغه وویل ای امیرالمومنین زه دهغه زوی وهلی وم او ماترینه خپله بدله واخیسته .
نو حضرت عمر (رض) حضرت عمرو بن عاص ته وویل : تاسو دکوم وخت څخه راپدیخوا خلك غلامان کړیدی ؟ حال داچی هغوی خپلو میندو ازادزیږولی وو!
حضرت عمرو بن عاص وویل : ای امیرالمومنینه ماته ددی موضوع په اړه هیڅ معلومات نه ؤ اونه دی سړی ماته خپل فریاد اوشکایت رارسولی ؤ.
اوس دمسلمانانو دامیرانو او مامورانو او نورو وګړو تر منځ داسلام ددین تقوی او عدالت حال وګوری اودشریعت په رڼا کی پری قضاوت وکړی اودعبرت درس ترینه واخلی.

سرلوری افغان دقربانیو ...

ملت مو ددغه سترو ویاړونو دخپلولو په لار کی بی ساری سربښندنی وکړی او دتاریخ په پاڼو کی دافغان نامه ته منسوب دغه ویاړ هسی خوشی هم نه دی تر لاسه شوی .

زموږ گران هیواد ټول دباروتو په لمبو کی سوځیدلی دعصر دستر جنگی ځواك دخطرناکو وسلو دجگړی ډگر ؤ ، او پوره دیارلس کاله په دغه هیواد دراکټونو دبمونو بارانو نه اوریدلی ، چی طبعاً دغی نابرابری جگړی زموږ مجاهد ولس ته بی شمیره دړدوونکی اوهیبتناکی فاجعی هم یادگار پریښودی ، چی تر کلونو کلونو پوری به زموږ دهیواد والو په اذهانو کی ژوندی وی .

دملت یوه ستره برخه وکړی مو شهیدان او پاتی یی یتیمان کونډی زوی مری او په سلگونو نورو مصیبتونو کی راگیر دی اوس په داسی حال کی چی زموږ دمجاهد ولس برمیال قیام دبری پر درشل ولاړ دی استکباری ځواکونه یی دناکامولو په هڅو کی دی او زموږ دگټلی جنگ دبیرته بایللو لپاره خطرناکی دسیسی په کار لویدلی .

ترڅو له یوی خوا په ټوله نړی کی داسلامی انقلاب دبری او اسلامی سوچه نظام دجوړیدو دتجربی مخه ونیسی او وښیی چی گواکی اسلام چیرته دنظام جوړولو جوگه نه دی او په نړی کی هر تحول او حادثه باید ددوی « استعمار چیانو » په خوښه او مصلحت وی او له بل پلوه دهغه گواښ او خط مخنیوی وکړی چی په افغانستان کی یی داسلام دحاکمیت په صورت کی خپلو گټو ته متوجه وینی لویدیځ همدا اوس په همدی هڅه کی دی چی زموږ جهاد دخپلو مرستو او معلومو لوریو دهڅو او هاند نتیجه وښیی نه داسلامی انقلابی مکتب او نوران جوړوونکی عقیده .

موږ دجهاد په دی حساسه او ټاکوونکی مرحله کی دټولی بشری نړی اخلاقی حمایی او مرستی ته اړیو ، او پردی هم اعتراف کوو چی داسلام او نوری نړی اخلاص او بشردوستانه اقتصادی مرستو مو دجهاد دعملیی دگړندیتوب او بالاخره دروسی امپراطوری درانسکوریدو یو عامل و ، خو پردی هم باوری یو زموږ ستر برمیال جهاد چی دعصر معجزه یی زیږولی یوازی او یوازی دخپل مومن ملت قربانی دستر رب (ج) هغرځانگړی پیرزوینه او کرم گڼو چی زموږ پر مجاهد ملت یی لورولی ده په افغانستان کی دروس پوځونو ماته ، ان په سیمه او نړی کی دروانو تحولاتو اصلی عامل او بنیادی سبب دخپل برمیال هیواد بی دریغه قربانی شهامت او قوی عقیده او ایمان گڼو اویس .

له خپل مجاهد ملت سره دمسلمانانو او باضمیره انسانانو مرستی دجهاد په پروسه کی دپیاوړتیا عامل گڼو او منته یی کوو خو دروسی پوځونو په ماته کی یی ټاکوونکی او اساسی نقش نشو تسلیمولی .

استکباری ځواکونو پر ډیرو هیوادونو یرغل کړی خو دفاتح او بریمن نښان یوازی دافغان پر تندی ولیکل شو .

ملت مو دنورو مرستو پرخپل ایمان او عقیده ډاډه وی لکه څنگه چی دروسی ستر پوځی ځواك ورته په گونډو شو همدغسی به دلویدیځ داستکباری ځواك ریشی او توطیی هم پرخپل قاطع او مومنانه دریځ خنثی کوی .

که ټوله نړی زموږ دمجاهد ملت پرخلاف ودریږی هم تر هغو پوری چی زموږ مجاهد ملت دخدای (ج) په لارکی دجهاد ټوپك په اوږه لری

دستر رب مرسته او حمایه زموږ له مجاهد ملت سره ده او باوری یو چی بالاخره به دماتم ځپلی او ویجاړ افغانستان پر کنډوالو داسلامی عدالت لمر راخیژی اودملت عظیمه قربانی به مو منطقی نتیجی ته رسیږی ، تر ټولو ستر ماتم داگڼو چی که خدای (ج) مه کړه زموږ ملت دپردیو دپروپاگنډتر اغیزی لاندی راشی هغه څه چی نوی یی دولسونو دقیامونو دسرغندویی او سالاری ستیژ ته رسولی وو پریږدی هغه تکبیرونه غلی کړی چی دکریملن بنیادونه یی ولړزول هغه مورچلونه خوشی کړی چی دمومنو شاځلمو په وینو رنگ او زموږ دملت دعظمت او شهامت ستر یادگارونه دی .

هوکی یوازی اندیښنه مو همدا ده .

که نن نو زموږ دجهاد دښمنان پرون هم کم نه وو او نن هم خو دماتو او بریو پریکړه ددښمن په ډیر ښت او کمی کی نه ده ، که وای یوازی روسیه هم زموږ له مجاهد ولس سره په پوځی او انسانی ځواك کی دپرتلی وړ نه ده .

پریږدی چی نقابونه څیری شی څیری رسوا شی دریځونه ښکاره شی وگورو چی سرلوری افغان دخپلی قربانی په څلی ولاړ دی او که دچا په ... ؟! مرستو اوحمایه !!!

دپاکستاني ولس او افغاني جهاد مقصد یو دی

جنرال حمیدگل

دروان کال دجنوری په ۲۳ مه جنرال حمید گل دپاکستان پیژندل شوی پوځی شخصیت له خپلی دندی څخه تقاعد شو .

جنرال حمید گل چی له افغانی مجاهدینو سره ډیری نږدی اړیکی لری دنوای وقت له ورځپانی سره دیوی مرکی په ترڅ کی له افغان جهاد څخه دخپل ملاتړ په هکله داسی وایی :

زما دافغانانو سره مستقیمی اړیکی دی زه پدی اعتراف کوم هغوی (افغانانو) زما سره مینه درلوده ، ماله هغوی سره ، ماله هغوی سره کار کړی ، تاسی فکر وکړی زه هغوی په یوه ورځ څنگه کولای شم له یاده وباسم ؟

هغه زیاته کړه دشهید ضیاالحق دالوتکی تر را غورځیدو وروسته افغانانو لپاره زه دامید یوه نقطه وم . متقاعد جنرال حمید گل وایی دپاکستان دولس دغوښتنو او دافغانستان دجهاد هدف یو دی افغانی مجاهدین زموږ دوستان دی دهغوی جگړه زموږ ددفاع لپاره ده ، او ماترخپله وسه ددی هڅه کړی چی هغوی اتحاد او یووالی ټینگ وساتل شی .

اودادهغوی لپاره هم اودپاکستان لپاره هم گټه ده چی یو ځای او په متحدانه توگه دخپلی ازادی جگړی پرمخ بوزی .

که پر مسلمانانو زور زیاتی بند نه شی نودجگړی امکان شته

دبنگله دیش حکومت دبرما پوځی حاکمانو ته اخطار ورکړی چی که په برمایی مسلمانانو باندی ددوی له خوا دزور زیاتی اوظلم لړی بنده نشوه ، نو ددواړو هیوادونو ترمنځ به جگړه ونښلی .

دبی ، بی ، سی راډیو دخبر مطابق دبنگله دیش حکومت برما ته اخطار ورکړی چی که دراتلونکی اونۍ په ترڅ کی ترسره کیدونکی ددواړو خواوو خبری اتری له ناکامی سره مخ شوی ، نو بنگله دیش به دنړیوالو مرستی تر لاسه کړی .

دبنگله دیش دحاکم گوند یوه مرستیال ویلی دی چی دده حکومت له برما څخه غواړی ترڅو ددی ضمانت وکړی چی دبرما اوسیدونکی به له هرډول خوف او خطر نه پرته په خپل هیواد کی ژوند کوی دبنگله دیش حکومت د« برما » دغه ادعا چی گواکی دادبرما داخلی مسله ده ردکړی اوویلی دی چی بنگله دیش پدی مسله کی ځان دخیل بولی ، او دبرما څخه بنگله دیش ته دراغلیو مسلمانو مهاجرینو خراب حالت دټولی نړی په مسلمانانو باندی اثر کولای شی .

دبنگله دیش حکومت ویاند زیاته کړی چی دده حکومت ددی مسلی سوله ایزه حل غواړی خو که دبرما حکومت دپوځی کشمکش رنگ ورکړ نو بیا بنگله دیش دخپل هیواد ددفاع حق لری دیادونی وړ ده چی دخو مودی راهیسی له برما څخه تقریباً ۶۰۰۰۰ تنه مسلمانانو هجرت راکړی اوپه بنگله دیش کی یی پناه اخیستی .

امریکا به دیهودو دځای پر ځای کولو په پروسه کی داسرائیلو مرسته کوی

واشنگټن ، ددلوی ۶مه :

په امریکا کی اسرائیلی سفیر ویلی دی چی دامریکا حکومت به دیهودو دځای پر ځای کولو په پروسه کی داسرائیلو له حکومت سره پخپلو شویو ژمنو ټینگ واوسی نوموړی سفیر دغه خبره دامریکا دبهرنیو چارو وزیر جیمزبیکر سره دلیدنی کتنی وروسته په واشنگټن کی وکړه نوموړی وویل دجمیز بیکر سره دده لیدنه کتنه دهغه ۱۰۰۰ میلونه ډالره پور په باب وه چی اسرائیلو دامریکا څخه دیهودو دځای پر ځای کولو لپاره غوښتی دی ، خو بلی خواته یوه امریکایی سناتور چی داسرائیلو لپاره دامریکا دمرستو دکمیټی مشر هم دی ویلی دی چی باید امریکا خپلی مرستی په همغه اندازه راټیټی کړی څومره چی په دغه پروسه خرڅیږی .

دالجزایری مسلمانانو په مظاهره ډزی

الجزیره ، ددلوی ۶ مه :

په الجزایر کی دپوځی حکومت دبندیز سره سره بیا هم دجمعی په ورځ په لکونو خلکوددی هیواد په مرکز کی دجمعی لمونځ اداء کړ او وروسی یی مظاهری وکړی .

دالجزایر څخه را رسیدلی خبرونه وایی چی دجمعی په ورځ پولیسو ډیر سخت امنیتی تدابیر نیولی وو او حتی لوی لوی جوماتونه او دینی مدرسی یی محاصره کړی هم وی ، په ډیرو سیمو کی یی په لمونځ کوونکو پوځیانو او پولیسو ډزی وکړی چی په نتیجه کی بی شمیره لمونځ کوونکی ټپیان شول ، په خبرونو کی ویل شوی چی دولتی پولیسو په ډیرو سیمو کی له جوماتونو څخه لودسپیکرونه ښکته کړل اوډیر لمونځ کوونکی او داسلامی ژغورنی جبهی غړی یی ونیول خبر ځای زیاتوی په لکونو خلکو دحکومت خلاف مظاهره وکړه اوله پوځ څخه یی په کلکه غو ښتنه وکړه چی دولس رایو ته دی سرښکته کړی اواسلامی ژغورنی جبهی ته دی حکومت وسپاری .

بطروس غالی خپل یو استازی لیبیا ته لیږی

نیویارك ، ددلوی ۵مه :

دملگرو ملتو دسازمان نوی سرمنشی بطروس غالی به خپل یو استازی په دی غرض لیبیا ته واږی ترڅو هلته دلیبیا دجمهور رئیس قذافی سره ووینی او دملگرو ملتو دهغی پریکړه لیك په منلوته یی راضی کړی چی پکی دلیبیا څخه غوښتنه شوی چی خپل دوه تنه استوگن چی دامریکا له خوا دمسافر وړونکی الوتکی په راغورځولو تورن شوی دی امریکا ته وسپاری خو هلته دلیبیا واکمن دامریکا ددغی دعوی دمنلو نه سرغړونه کوی او وایی چی ددوی دغه دوه تنه استوگن دامریکانانو دالوتکی په راغورځولو کی ککړ نه دی بلکه دادمسلمانانو لپاره یو سازش دی. په خبرکی زیاته شوی که چیری لیبیا دملگرو ملتو دسازمان دغه پریکړه لیك ونه منلو نو په لیبیا باندی به اقتصادی بندیزونه ولگول شی .

په اجودهیا کی به ددرمسال دجوړولو کار په راتلونکی میاشت کی پیل شی

دهند داتراپردیش په ایالت کی دبابری جومات پر ځای دجوړیدونکی درمسال دجوړیدو کار به دوهم ځل لپاره دروان عیسوی کال دفبروری په میاشت کی پیل کیږی.

دهندوانو دمتعصب گوند « وشواهند پرشید » یوه ویندوی ویلی دی چی ددرمسال دکار پیل موثقه نیټه به په نژی راتلونکی کی اعلان شی .

دیادونی وړ ده چی متعصب هندوان او دهغوی حینی فاشیستی گوندونه دناوړه ادعا او تیری له لاری غواړی دمسلمانانو دعبادت گاه په ورانولو سره دمسلمانانو دخور او ازار سبب شی.

افراد طرفدار کارمل ازپست های حساس برکنار می گردند

کابل ، میدیا :

بگزارش خبرنگار اعزامی میدیا از کابل عده از مقامات رژیم کابل که طرفدار ببرك کارمل گروه پرچم حزب کمونست کابل دانسته میشوند یکی بعد از دیگری ازپست های شان تصفیه میشوند .

طبق گزارش به سلسله این بر طرفی ها شاهین معین وزارت تجارت سید احمد وفا رئیس مواد نفتی و سروری معاون ان وعده دیگر که ظاهرا به اتهام اختلاس از مقام شان دور ساخته شده اند ، از طرفد اران ببرك کارمل بوده که به اساس تصمیم تصفیه دستگاه رژیم این عناصر برطرف گردیده اند.

طبق یك خبر دیگر منبع مذکور تبدیلی های در مقامات رهبری ولایات نیز در رژیم کابل صورت گرفته که بنظر ناظران اگاه جز همین تصفیه دانسته شده است .

بقرار گزارش مذکور جنرال جمعه اخك ، قوماندان عمومی ورئیس زون شمال که حیثیت نماینده خاص نجیب رئیس حکومت کابل را دارد اخیرا بجای روف بیگی بحیث رئیس تنظمیه ولایت بلخ مقرر شده است .

خبر نگار میدیا از قول ناظرین اگاه می افزاید : تبدیلی های نیز در سطح جنرالها رویدست بوده که بر طبق ان جنرال نبی عظیمی معاون وزیر دفاع ، جنرال افضل لودین ، رئیس زون شرق و نماینده خاص نجیب و همچنان جنرال اصف دلاور در اینده نزدیک مشمول این تبدلات خواهند شد .

دهیت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوسټ بکس (۱۰۲۳)
یونیورسټي ټاون پیښور
ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»